# د سرحدي پښتنو آزادي ولي نه منئ؟

ایکـــه بمن فـــزودهٔ گـــــرمی آه و نالـــه را
زنده کن از صدای من خاک هزار ساله را
خالق من نگاهدار آبروی گدای خـــویش
زانکه زجـــوی دیگران پر نکـــند پیاله را
(علامه اقبال مرحوم)

## اوسنئ اوضاع:

نن د پښتنو پر کور بیا نوی ماتم دئ، په دنیا کي مریي قومونه آزادېږي، کښته قومونه لوړېږي، ناسیالان له سیاله سره برابرېږي، خلک وایي چي پر دنیا عدالت او انصاف حاکم دئ، کوچني او لویو ملتو ته د ژوندانه حق ورکړه سوی دئ. بین المللي عدالت څرګند سوی دئ، هر زوره ور غریب نه سي خوړلای، پر دنیا د امنیت او اطمینان دوره راغلې ده.

دا ټوله خبري چي خوشبینان یې کوي، تاسي ورسئ نن د صوبهٔ سرحد د پښتنو حال وګورئ، د بلوچستان پښتانه ووینئ، چي په څه ډول دوی بیا د غلامئ خوا ته بېول کېږي؟ او د دوی مشروع حقوق څوک نه مني.

نن انګرېزانو د پښتنو پر زړو بیا یو نوی داغ کښېښو، نن دوی دا ثابته کړه، چي د نورو انسانانو په ډول موږ د حق او انصاف وړ نه بولي، او په زور او جبر زموږ مشروع او تاریخي او ملي حقوق تر پښو لاندي کوي.

دمخه مي لیکلي وه، چي د ډیورنډ خط و ها خوا ته پښتانه انګرېزانو مجبور کړل، چي یا به په هندوستان ګډېږي یا په پاکستان. د دې ناوړه تجویز په مقابل کي زموږ متبوع حکومت او ملت او هم د صوبهٔ سرحد پښتنو احتجاج وکړ، زموږ متبوع حکومت یوه نوټه هم د برتانیا دولت ته ورکړه، او د مملکت پوهانو خپل د حق ږغ په مطبوعاتو او راډیو کي پورته کی، او پخپله د صوبهٔ سرحد پښتنو هم وویل چي موږ د ځان لپاره آزاد ژوند غواړو، بېل قوم یو، د برتانیا تر غلامئ وروسته د بل چا مریيتوب نه قبلوو، او که زموږ څخه د آزاد ژوند رایه غواړئ ورکوو یې که نه نو بالکل په رایه ورکولو کي نه شاملېږو.

## د برتانیا جواب او ناوړه اقدام:

د برتانیا اخبارو او د هند او لندن راډیوګانو او آژانسونو زموږ دا د حق او انصاف غوښتنه قبوله نه کړه، دوی وویل چي د صوبهٔ سرحد پښتانه بېله ژبي بل اشتراک د افغانستان سره نه لري، او دا د هند داخلي خبره ده او د افغانستان له خوا چي دا حق غوښتل کېږي د نورو په لمسون به وي. اټلي د برتانیا صدراعظم په پارلمان کي هم وویل چي صوبهٔ سرحد د هند یوه ټوټه ده او مقدرات یې هم په دوی اړه لري.

زموږ خارجه وزارت چي کومه نوټه د برتانیا حکومت ته ورکړې وه، د هغه جواب هم داسي راکړه سو، چي زموږ د متبوع حکومت قناعت یې نه کی حاصل، ځکه نو د هغه جواب بیا زموږ حکومت وواېه، او د برتانیا دولت ته یې ولېږه.

په دې مابین کي چي زموږ ملت او حکومت د پښتنو جایز او مشروع حقوق غواړي، دولت برتانیا څه وکړه؟ دوی په صوبهٔ سرحد کي (۱۵) زره مسلح عسکر او الوتکي او توپونه ودرول او په زور او جبر یې ریفرنډم یعني رایه اخیستل شروع

کړل، او د بلوچستان د پښتنو قبايلو يعني کاکړانو او اڅکزو او ترينانو او نورو پښتنو لپاره يې په بل ډول د غلامۍ دام وغوړاوه، او د جرګې په نامه يې يو څو تنه سره راټول کړل او په دوی يې د پاکستان غلامي ومنله.

آيا د آزادۍ او ډيموکراسۍ په دنيا کي داسي جبر او زور څوک کوي؟ د بلوچستان شاهي جرګه چا جوړه کړېده، او د عوامو کوم کوم نماينده ګان پکښې دي؟ آيا يو څو تنه کولای سي، چي د ټول ملت په غاړه کي د بل چا د تابعيت پړی ور واچوی؟

د صوبهٔ سرحد ريفرنډم چي تر عسکري اقتدار او د ټوپکو تر اور لاندي جاري دئ آيا پر ډيموکراسي اصولو باندي تطبيق کېدای سي؟

دوی پخپله وايي: که چا ببله هندوستان يا پاکستانه بل ږغ وکړ، او يا يې د ځان لپاره آزاد ژوند وغوښت فوراً د عسکرو له خوا په ټوپک وژل کيږي. آيا دا اوضاع مشروع ده؟ کوم حقوق او کوم ډيموکراسي اصول د داسي ريفرنډم تجويز کوي؟

پښتانه نارې غلبلې وهي چي موږ پسله دي غلامي نه منو، موږ يو بېل قوم يو، هنديان نه يو، او حق لرو چي ځانله بېل ژوند، او آزاد حيات غوره کړو، مګر د برتانيا مامورين ورته وايي، که مو بل ږغ کړی و، اعدام به سئ.

د صوبه سرحد او بلوچستان پښتانه دا يو قرن په زور او عسکري اقتدار او د توپ او ټوپک په مردک له نورو پښتنو څخه بېل کړل سوي وه، دوی په خالص جبر د برتانيا تر غلامۍ لاندي سوي وه، اوس چي د برتانيا د غلامۍ دوره تېرېږي، بيا هم پر دوی هغسي جبر او زور کيږي، چي د يوه نوي بادار مريیتوب ومني.

مساوات، عدالت، انصاف، منشور اتلس، د سانفرانسسکو د ډيموکراسۍ نارې او غلبلې، بين المللي قوانين او حقوق څه سوه؟

يونو چي د دنيا دکوچنيو قومونو حقوق ساتي، او د بين البشري عدالت او مساوات اعلانونه کوي، دا جبر چي نن پر پښتون قوم کيږي څنګه مني؟

که موږ ووايو، چي په صوبه سرحد کي تاريخي او ملي او قومي حقوق لرو، زموږ قوم دئ، يوه وينه يو نژاد يو، يوه ژبه يو کلتور لرو، نو دوی وايي، چي دا د بل چا ټونګ دئ.

آيا دا زموږ پر پښتني مناعت او ملي شعور باندي حمله نه ده؟ آيا دا د يوه ملت توهين نه دئ؟ آيا دا د ډيموکراسي اصولو او د آزادۍ د مشروعو حقوقو پايمالي نه ده؟

موږ نه غواړو، چي د دولت برتانيا سره زاړه حسابونه فيصله کړو، موږ نه غواړو چي د دولت برتانيا سره مو آينده دوستانه روابط خړ وي، موږ نه غواړو چي د تاريخ د پاڼو پخواني ترخه خاطرات بيا را په ياد کړو، او نه د بل چا د لاس آله کېږو، زموږ سياست واضح دئ، هر کله مو د دنيا د آرامۍ او اطمينان لپاره ښه مناسبات له ټولو همسايګانو او متعاهدو دولتو سره ساتلي دي، د افغانستان ملت يو صلح خواه ملت دئ، نه پوهېږو چي ولي د برتانيا پوهان او د دنيا مساوات طلبان دا زموږ ږغ نه اروي؟

هغه ورځ ولاړه، چي دوی به د روس د تجاوز د جلوګيرۍ په بهانه زموږ سرونه په توپ او ټوپک راکوټل، نن دنيا سترګي لري، او انسانيت د حق اروېدلو غوږ موندلی دئ.

## تېر مجاهدات:

دوی به وايي، چي د پښتنو مځکي موږ له افغانستانه په معاهداتو پرېکړي دي. د سيند له څنډو بيا تر خيبره، له بولانه بيا تر کوړکه ټولي هغه مځکي دي چي زموږ د پښتنو پلرو او نيکه ګانو هډونه پکښې ښخ دي، د خوشحال خان او رحمان بابا مبارک مزارونه چيري دي؟ د پښتنو سرداران په پېښور کي نه دي ښخ؟ شال، ږوب، بولان، پښين د چا وه؟ کوم وخت چي د افغانستان مخلوع او شړلي امير شاه شجاع په لاهور کي نفي و، او د افغانستان د ملت له خوا يې هم هيڅ نماينده ګي نه درلوده، آيا د هغه مطرود سړي معاهده په اوس وخت کي دليل کېدای سي؟ ښه بيا که هم دليل وګرځي، آيا پخوانو اميرانو هغه معاهدات له چا سره کړي وه؟ آيا د علم حقوق يو مسلمه مسئله دا نه ده، چي يو متعاقد طرف له منځه ولاړ سي بل طرف هم د هغې معاهدې په اجرا مجبور نه دئ.

اوس چي دولت برتانيا له هنده وزي، نو آيا موږ له پاکستانه سره ولي په هغو زړو معاهداتو پاللو مجبور يو؟ آيا کوم حقوقي دليل سته چي ضرور به د صوبۀ سرحد او بلوچستان پښتانه بيا هم غلامي مني؟

## زموږ اخلاقي وظيفه:

د افغانستان دا غوښتنه بې منطقه او بې دليله غوښتنه نه ده، موږ د مځکو نيولو خواهش نه لرو، که څوک په موږ پوري نه نښلي، نو موږ يې هم په زور له ځانه سره نه ګډوو، موږ د هندوستان او پاکستانه سره آينده ښه او دوستانه روابط په زړه کي لرو، نن چي دوی آزادېږي موږ په يوه کلک شرقي او اسلامي روح دوی ته د آزادئ او سعادت تبريک وايو! مګر خپل پښتانه وروڼه هم آزاد غواړو، د دوی سعادت او آزادي او لوړتيا زموږ يو (ملي مقصد) دئ.

دا زموږ اجتماعي او اخلاقي وظيفه ده، چي خپل پښتانه وروڼه په دغه ګيرودار کي هېر نه کړو، پښتونوالی او مشترک پښتني روح موږ دې ته نه پرېږدي چي په موقع کي آرام کښېنو، د افغانستان ملت ډېر مضطرب او نګران دئ، چي زموږ له پښتنو ورونو سره څه کېږي؟ آيا يو ملت په داسي موقع کي خپله اخلاقي او اجتماعي فريضه هېرولای سي؟ يو پښتون بل خپل پښتون ورور څنګه پرېږدي؟ آيا د پښتونوالي اجتماعي او اخلاقي اصول دا مني، چي موږ دلته پټه خوله کښېنو، او زموږ ملي پښتانه وروڼه په صوبۀ سرحد او بلوچستان کي د اور او مردک او قهر او جبر په زور هغه ته بوتلل سي، چي دوی يې نه غواړي.

## د آزاد سرحد مسئله:

کومه رايه چي اوس د توپ او طيارې او عسکر په زور له پښتنو څخه اخلي، زموږ لپاره د اطمينان او قناعت وړ نه ده او نه به موږ له خپلو غوښتنو څخه لاس واخلو او نه به دنيا په داسي چال و فريب وخوري.

موږ له چا سره خصومت نه لرو، په روغه او مسالمت خپل مشروع مطالبات دنيا ته وړاندي کوو او د خپلو پښتنو سرحدي او بلوچستاني ورونو آزادي غواړو. د آزاد سرحد پښتانه هم زموږ وروڼه دي دوی داسي آزاد قوم دئ چي ټول عمر يې په آزادي تېر کړی دئ، او چي د دنيا په ياد دي دوی غلامي نه ده منلې.

د هند د وايسرای د ۳ جون په اعلاميه (۱۳ – ۱۷) ماده کي داسي راغلي وه، چي تر ريفرنډم وروسته به د پاکستان او آزاد قبايلو مذاکرات شروع کېږي، دا مسئله هم په اوسنيو واقعاتو کي د غور وړ ده، او بيا زموږ پښتنو مقدرات سره مشترک

دي.

که د آزاد قبایلو آزادي ومنله سي نو دوی خو د اقتصادي مجبوریت له امله نه سي کولای چي یوازي په سیاسي استقلال غاړه وباسي، ځکه د دوی ګذران او اقتصادي ژوندون بېله دې نه سي سمېدلای، څو د صوبهٔ سرحد او آزادو علاقو د پښتنو مقدرات سره مشترک دي، که دغه آزاد پښتانه په فقر او عسرت اقتصادي ګرفتار وي نو دوی به په آینده کي څنګه ژوند وچلولای سي؟

دا خبره هم د افغانستان د پښتنو په ملي مقاصدو کي داخله ده او نه سو کولای چي د آزاد سرحد پښتانه دغسي ټيټ پاته وي، دوی باید د علم او اقتصادي ژوندون خاوندان سي، او دا هم نه سي کېدای څو دوی د صوبهٔ سرحد د سمو علاقو له اقتصادي منابعو څخه برخه ونه لري. دا مسئله هم د سرحدي پښتنو آزادي او د ټولو پښتنو وحدت ایجابوي، او باید دنیا د پښتنو دغسي مسایل دغه ډول کرغېړن پرې نه ږدي، چي په آینده کي د ناامنۍ او اضطراب سبب سي. پخپله پاکستان هم باید دا خبره سره وسنجوي، چي پر دغو آزادیخواهانو پښتنو باندي چي په صوبهٔ سرحد یا بلوچستان یا آزاد سرحد کي پراته دي څنګه حکمراني کولای سي؟

هغه قوم چي مغولي او برتانوي مقتدره سلطه یې نه وه منلې، اکبر او اورنګزېب غوندي لویو امپراتورانو دوی ځانته اېل نه کړل آیا پاکستان به څنګه پر دوی حکومت وکړي؟

په پای کي بیا وایم: زموږ ملي مقصد دا دئ، چي پښتانه مسعود او آزاد او مترقي وي، او په آینده کي د جګړې او عدم اطمینان وسایل ورک سي او بین المللي امنیت په خطر کي نه وي او دا هم زموږ اجتماعي او پښتني اخلاقي فریضه ده او فقط یو خالص ملي او پښتني احساس او شعور دئ.

طلوع افغان، ۱۳۲٦ ش، ۹۹ ګڼه، لومړي مخ.